مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۹مه | ۵۱۷مه ګڼه

# تر ناندریو او ځنډ وروسته؛

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون ولسمشر اشرف غني د ټاکنو ګټونکی اعلان کړ



۳

### د ټاکنو پایلې اعلان شوې، خو لانجه ختمه شوه؟

۲ مخ

### ډاډه اوسئ؛ چین ستاسو د بچیانو روغتیا ته پوره پاملرنه کوي!

۲ مخ

### افغانستان د سولې او جګړې په وروستي پړاو کې؛ راتلونکې دوې اونۍ ولې مهمې دي؟

۳ مخ

## په هرات کې د بې پیلوټه الوتکې په برید کې لس ملکیان وژل شوي

د هرات د کشک کهنه او کشک رباط سنګي ولسوالیو لسګونو اوسېدونکو د تېرې ورځې د بې پیلوټه الوتکو په برید کې د ملکي کسانو د وژل کېدو په غبرګون کې لاریون وکړ.

د دغو کسانو د ادعا له مخې، د دوشنبې په مازدیګر د کشک رباط سنګي ولسوالۍ په پسته لیق سیمه کې د بهرنیو ځواکونو په شو هوایي بریدونو کې لس ملکي وګړي وژل شوي چې اکثره یې ښځې او ماشومان دي.

اعتراض کوونکو د وژل شویو کسانو د بدن ټوټې د هرات د والي د دفتر مخې ته راوړې وې او د دغې پېښې د غندنې تر څنګ یې د جدي پلټنو غوښتنه کوله.

په ورته وخت کې په ولسي جرګه کې د هرات استازې مسعوده کروخې د افغان او بهرنیو ځواکونو د نه سنجول شویو هوایي بریدونو ته په نیوکې ویلي، چې بهرنیو او افغان ځواکونو ته د ناسمو معلوماتو ورکول د دغې وژونکې پېښې د رامنځ ته کېدو سبب شوي دي.

خو بلخوا د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد ویلي چې د کشک کهنه ولسوالۍ د ورمې ورځې په هوایي برید کې د طالبانو یو قوماندان ملا احمد په ګډون، د دې ډلې ځینې کسان وژل شوي دي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې له لاسلیک کېدو سره سره، د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی چې تر ډېره پکې ملکیان په نښه شوي دي.

## د تاوتریخوالي کمښت به په راتلونکو څلورو ورځو کې پیل شي



۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### د بریالیو نجونو راز




ښځه نیمګړې نه ده، بلکې داسې بشپړ موجود دی چې د نسلونو پالنه، روزنه او بدلون په کې نغښتی دی.

## کرنې ریاست: روان کال په ننګرهار کې نږدې زر جریبه بڼونه جوړېږي



د ننګرهار کرنې ریاست چارواکو ویلي، چې د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له خوا سږ کال د دغه ولایت په اچین، کوټ، رودات، خوګیانې، شېرزاد او چپرهار ولسوالیو کې د مالټې، لیمو، املوکو، شفتالو، منې، چهارمغز، ناک، الوچې او ګیلاس ۹٦۰ جریبه نوي بڼونه جوړېږي چې په دغو بڼونو کې به ۱۳ زره او ۹۹۸ تصدیق شوي نیالګي کېنول شي.

چارواکو ویلي، د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژه «CBARD» پر دې سربېره چې کروندګرو ته به تصدیق شوي نیالګي ورکړي، له هغوی سره د باغونو په نقشې اچولو، د اوبولګولو د سیستم په جوړولو او د بڼوالۍ د مدیریت اړوند ځینو نورو برخو کې هم تخنیکي او فني مرستې کوي.

دوی دغه راز ویلي چې د مېوو نوي بڼونه جوړول په دې ولایت کې د بڼوالۍ په برخه کې لوی پرمختګ دی.

## وزارت مخابرات: قیمت انترنت شبکه های سلام و افغان تلیکام ۳۰ درصد کاهش یافته است



وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، از کاهش ۳۰ درصدی قیمت انترنت شبکه های سلام و افغان تلیکام، خبر داده است.

در خبرنامه مطبوعاتی وزارت مخابرات آمده است که محمد فهیم هاشمی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، رسماً قیمت های عمده و پرچون انترنت شبکه های «سلام و افغان تلیکام» را اعلام کرد.

هاشمی گفته است: «امروزه نیاز مبرم مردم افغانستان به انترنت میباشد. ما در تلاش این هستیم تا زمینه های خوبی را به مردم فراهم نماییم.»

در ادامهٔ خبرنامه آمده است که طبق وعده، وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، قیمت فروش عمده انترنت افغان تلیکام را ۳۰ فیصد و قیمت انترنت برای مشترکین شرکت مخابراتی سلام را ۲۰ فیصد کاهش داده اند.

وزارت یادشده، از شرکت های مخابراتی خصوصی هم آرزومند است تا در نرخ خدمات انترنت به شهروندان، کاهش بیاورند.

این در حالیست که اعتراضات و شکایات مردم در مورد نرخ های انترنت و تلیفون، اخیراً زیاد شده است.

شماری از نهادهای مدنی بر قیمت بلند انترنت در افغانستان انتقاد نموده، هشدار داده بودند که اگر تا یک هفته، قیمت انترنت ۵۰ درصد کاهش پیدا نکند، خیمه های تحصن را بر پا می کنند. این درحالیست که فهیم هاشمی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در سیزدهم دلو گفته بود که فی جی بی انترنت، برای شرکت های مخابراتی ۹ افغانی تمام می شود و آنها فی جی بی را ۱۸۰ افغانی به فروش می رسانند.


## اعلان!

شرکت طلوع آرمان شهر می خواهد یک مقدار اجناس را که شامل الماری، کمپیوتر، پرنتر، فرنیچر، تلویزیون و وسایل موتر میشود، را در یک پروسه مزایده لیلام نماید.

تمام داوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را داشته باشند، میتوانند به شماره تیلفون ۰۷۹۹۳۰۵۰۲۰ در تماس شده، شرطنامه را ملاحظه کرده، فورم ثبت‌نام را خانه پری نموده و الی روز پنج‌شنبه تاریخ اول حوت سال ۱۳۹۸ ساعت ۱۲ بعد از ظهربه به آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نمایند.

ثبت‌نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت می گیرد:

info.tasl.company@gmail.com

**محل برگذاری و تاریخ لیلام بعداً از طریق تلیفون اطلاع داده میشود.**

## دریځ

### د ټاکنو پایلې اعلان شوې، خو لانجه ختمه شوه؟

د ټاکنو کمېسیون بالاخره د تېرو ولسمشریزو ټاکنو پایلې اعلان کړې. محمد اشرف غني د (۵۰.٦٤) سلنه رایو په ګټلو د افغانستان منتخب ولسمشر اعلان شو. د ټاکنو کمېسیون وايي چې په تېرو ټاکنو کې (۱۸۲۳۹۴۸) کسانو برخه اخیستې وه چې محمد اشرف غني وتوانید له دې ډلې د (۹۲۳۵۹۲) رایې تر لاسه کړي. ټاکنو کمېسیون وايي چې دا اعلان د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له خوا د ځانګړي تفتیش د پرېکړې له عملي کېدو وروسته کوي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ځینو غړو بیا ویلي چې د دوی پرېکړه سمه نه ده عملي شوې او ټاکنو کمېسیون خپلسري کارونه کړي دي.

اوس مهمه پوښتنه دا ده چې له دې سره ټاکنیزه لانجه حل شوې او که موږ د لانجو یو بل پېچلي پړاو ته داخل شوي یو؟

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې او د حکمتیار په مشرۍ د اسلامي عدالت ټیم له وړاندې د دې پرېکړې مخالفت کړی او ویلي یې دي چې پر وړاندې به یې ودرېږي. د ثبات او همپالنې ټیم مهمو ګډونوالو ګواښ کړی چې موازي حکومت به جوړوي. جنرال دوستم، محمد محقق، کریم خلیلي او د دې ټیم نورو ګډونوالو ویلي چې دوی د کمېسیون پرېکړه نه مني او خپل موازي حکومت به جوړوي. له دې ښکاري چې ټاکنیزه لانجه نه یوازې حل شوې نه ده، بلکې یو بل پړاو ته ننوتې ده. د ثبات او همپالنې ګواښ ساده نه دی او که دوی رښتیا هغه څه وکړي چې ویلي یې دي، نو ستونزه به لا پراخه شي. اوس وېره ده چې ښایي په ځینو ولایتونو کې پراخ لاریونونه وشي، یا لویې لارې بندې کړل شي او یا هم هڅه وشي چې ځینې سیمې د حکومت له کنټرول څخه و ایستل شي. په دې ډول د ټاکنو د پایلو اعلان یو بله لانجه جوړې کړې ده.

له بله اړخه ټاکل شوې درې ورځې وروسته د طالبانو او امریکا تر منځ د تاوتریخوالي د کمولو مرحله پیل شي او یوه اونۍ به دوام کوي. یوه اونۍ وروسته به د سولې هوکړه لیک لاسلیک کېږي او دا چاره به بین الافغاني خبرو ته لاره هواروي. اوس چې دلته د ټاکنو پایلې اعلان شوې او ورسره به پراخ اعتراضونه او لانجې پیلېږي، نو له شک پرته چې دا چاره به د بین الافغاني خبرو په مخ کې یو واقعي خنډ جوړ کړي. که په کابل او د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې پراخې لانجې، اعتراضونه او اختلافات وي، نو دلته به د سولې د خبرو لپاره د حکومت، سیاسي ګوندونو او سیاستوالو تر منځ هم پر ګډ تولمنلي، ملي او افغاني پلاوي اتفاق نه وي. دا چاره به د دې سبب شي چې بین الافغاني خبرې یا پیل نه شي، یا هم نیمګړې پیل شي او یا هم ښایي یو مخ وځنډېږي. له بله اړخه اشرف غني او ملګري یې چې له وړاندې د سولې د روانو هڅو مخالفت کوي، له دې اعلان سره ښایي ځان لا زیات پیاوړی او مشروع احساس کړي او په لا زیات قوت د سولې له روانې پروسې سره مخالفت ته را ووځي.

په دې ډول د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان نه یوازې لانجه حل کړې نه ده، بلکې لا یې پېچلې کړې ده. له دې سره به نه یوازې د حکومت تر کنټرول لاندې سیمه کې سیاسي لانجې زیاتېږي، بلکې د سولې په چاره کې به هم خنډ او ځنډ پیدا شي.



## ډاډه اوسئ؛ چین ستاسو د بچیانو روغتیا ته پوره پاملرنه کوي!

لیکنه: وانګ یو
په افغانستان کې د چین ولسي جمهوریت لوی سفیر

په چین کې د افغان محصلینو قدرمنو کورنیو! هیله ده چې روغ جوړ اوسئ!

زه په افغانستان کې د چین سفیر وانګ یو یم. د سږ کال ژمی ډېر ښه نه و. د نوي کورونا ویروس له امله د سږي ناروغۍ پېښېدو د چین د ډېرو کورنیو امن او ډاډمن ژوند ګړکېچن او ګډوډ کړی، د اختر فضا یې سړه کړې او ستاسو ډېرې اندېښنې یې هم را پارولې دي. کله چې اولادونه مسافر کېږي، میندې او پلرونه ورته په اندېښنه کې وي. تاسو به اوس په دې اندېښنه کې وی چې بچیان مو په چین کې امن دي او که نه؟ دوی به پر دې ناروغۍ اخته شي او که نه؟ څوک به د دوی امنیت وساتي او که نه؟ د دوی څښاک به کافي وي؟ زما او ستاسو احساسات یو ډول دي، ځکه چې زه هم یو پلار یم، بچي را نه لرې دي، خو تاسو باید له دې اړخه ډاډه وی. د چین په ځمکه کې به د چین حکومت د خپلو بچیانو په څېر هر بهرني محصل ته پوره پاملرنه وکړي.

ډاډمن اوسئ! ستاسو بچیان اوس په چین کې امن، روغ او جوړ دي. تر اوسه هېڅ افغان محصل پر دې ناروغۍ نه دی اخته شوی. د دې تر څنګ باید وویل شي چې ناروغي کنټرول شوې ده او هر څه مثبت خوا ته روان دي. ویل کېږي چې که محصلین مناسبه وقایه مراعات کړي، نو پر دې ناروغۍ نه اخته کېږي. په ووهان ښار کې د دغو محصلینو د روغتیا د ساتلو لپاره څلور تدبیرونه نیول شوي دي.

لومړی: د ویروس سرچینې بندې شوې دي. په ووهان ښار کې ټول اوسېدونکي، سیمې او ناحیې په ۲۴ ساعتونو کې د بندولو په ګډون، جدي ساتونکي او اداري تدبیرونه عملي شوي دي. نو ټول محصلین له خطرونو بچ دي.

دویم: د دوی په هستوګنځایونو کې هره ورځ څو ځله د ویروس وژلو عملیې تر سره کېږي او دوی ته په وړیا توګه ماسکونه، دستکشې او د ویروس وژلو مایع ورکول کېږي.

دریم: پر وخت د محصلینو روغتیا په پام کې نیول کېږي. محصلین هره ورځ خپلو ښوونکو ته د خپل بدن د تودوخې درجې په اړه معلومات ورکوي او د خپلې روغتیا په اړه ور سره معلومات شریکوي.

څلورم: د محصلینو د غوښتنو وړاندې کولو لپار چینل پرانیزي. د هوبې ولایت اړوندو ادارو د محصلینو لپاره ۲۴ ساعته خدمتي کړۍ جوړې کړې دي. محصلین کولای شي د وي چټ یا ټلیفون له لارې پر وخت له اړوندو ښوونکو سره اړیکه ونیسي. له هوبې بهر په نورو سیمو کې د روانې میاشتې تر ۱۷مې نېټې پورې په پرله پسې ۱۳ ورځو کې د نویو ناروغانو شمېر مخ پر کمېدو دی، چې په ځینو ولایتونو کې دغه شمېر صفر ته راښکته شوی دی. په عین وخت کې د چین پوهنتونونو اعلان کړی چې د نوي سمیسټر د پیلېدو وخت ځنډېږي، چې دا د ویروس د خپرېدو یو اغېزمن تدبیر هم بلل کېږي. نو ویلای شو چې محصلین په چین کې په امن کې دي.

ډاډمن اوسئ!

د چین طبي شرایط د باور وړ دي. د ۲۰۱۸ ز کال تر پایه پورې په چین کې یو میلیون طبي ارګانونه، ۱۲ میلیونه ۳۰۰ زره طبي کارکوونکي او ۸ میلیونه ۴۰۰ زره بسترونه موجود وو چې په همدې کال کې ۸ میلیارده ۳۱۰ میلیونه کسان منل شوي او پکې ۵۸۰۰ میلیارده یوانه پانګونه شوې ده. اوس ټول چین په عمده توګه له هوبې څخه ملاتړ کوي چې ۲۰۰ طبي ډلې او ۳۰ زره طبي کارکوونکي په دې ولایت کې راغونډ شوي دي، چې له دې جملې څخه درې تنه عالي متخصصان او ډېر وتلي د سږي ناروغۍ کارپوهان هم شامل دي. د دې تر څنګ، چین اوس دې پایلې ته رسېدلی چې د یو نوي تخنیک په وسیله په ۱۵ دقیقو کې پر ویروس اخته کس وپېژني. د ویروس د وقایې واکسین پر حیواناتو ازمویل شوي دي، درې ډوله درمل هم د ازموینې په حال کې دي. د دغو تدبیرونو په رڼا کې په تېرو ۷ ورځو کې هره ورځ څه دپاسه زر کسان بیا روغ او له روغتونونو څخه رخصت شوي چې تر اوسه څه دپاسه ۱۰ زره کسان له روغتونونو رخصت شوي دي. چین څو کاله دمخه سارس ناروغي ماته کړه. موږ د حکومت غښتلې اراده، د وقایې هر اړخیز او علمي او عملي سیستم او ډېر وتلي طبي کارکوونکي لرو، نو هرو مرو به بریالي کېږو.

ډاډه اوسئ!

ټول محصلین په چین کې د څښاک او خوراک له ستونزې خلاص دي. اوس په بېلابېلو پوهنتونونو کې پاتې شوي محصلین بهرنیان دي. ټولو پوهنتونونو ژمنه کړې چې خوراکخونې پرانیزي یا د محصلینو لپاره د خوراک د ریزف یا سپارلو خدمتونه وړاندې کړي. ځینې پوهنتونونه په وړیا توګه ټولو بهرنیو محصلینو ته د ورځې درې ځله خواړه برابروي او ځینو پوهنتونونو د بهرنیو محصلینو لپاره ۲۰۰۰ کیلوګرامه سابه اخیستي دي. بېلابېلو پوهنتونونو د افغان محصلینو لپاره حلال خواړه هم چمتو کړي دي. په ووهان ښار کې د ۴۰ ورځو لپاره د خوراکي توکیو زیرمې شته او د هېواد له بېلابېلو ځایونو څخه مرستندویه توکي هم ښار ته راوړل کېږي. د څښاک او خوراک هیڅ ستونزه نه لیدل کېږي.

ډاډه اوسئ!

دغه څه به د محصلینو پر زده کړو منفي اغېز ونه کړي. د چین حکومت د افغانستان په ګډون د ډېرو پرمختللو هیوادونو لپاره د سکالرشیپ د برابرولو موخه دا ده چې ځوانان په پوه او علم سمبال شي او د خپل هیواد لپاره لا زیات خدمتونه وکړي. موږ د بهرنیو محصلینو د زده کړې پروګرام په فکر کې هم یو. د چین د لوړو زده کړو وزارت د محصلینو د درس لوستلو د ضمانت لپاره ۹ تدبیرونه نیولي دي. د بېلګې په توګه، د امتیازي ښوونکو له خوا جوړ شوي ۲۴ زره انټرنیټي درسونه په وړیا توګه ټولو محصلینو ته ورکړل شوي دي چې د دوی د زده کړې اړتیاوې پوره کړي. زه هیله لرم چې محصلین په دې ځانګړې موده کې نه یوازې کتبي معلومات زده کړي، بلکې د ناروغۍ پر ضد د چین د مبارزې رویه هم ور سره زده کړي او په دې بهیر کې له نږدې څخه په زړه پورې پېښې او کیسې وګوري.

ځینو محصلینو خپلو کورنیو ته ویلي چې اوس په پوهنتونونو کې ډېر خپه او وزګار دي. په چین کې یوه وجیزه شته چې وايي، د مور او پلار خبرې او مشورې د اولادونو لپاره حیاتي وي. زه هیله لرم چې تاسو له خپلو اولادونو سره خبرې وکړئ چې له دې اوږدې رخصتۍ څخه ښه استفاده وکړي او د ژوند یوه نه هیرېدونکې برخه ترې جوړه کړي. زه په ووهان کې له ځینو افغان محصلینو سره په اړیکه کې یم او کله کله له دوی څخه د حال احوال پوښتنه کوم. څو ورځې مخکې ما له یو محصل سره چې مجتبی ناصري نومېږي، اړیکه نیولې وه. هغه ما ته وویل چې اوس په ووهان کې دی او ښه ډاډه دی. ورپسې هغه ما ته یو اوږد میسیج راولېږه چې زه ترې ډېر اغیزمن شوم. هغه وویل: زه ویاړم چې په دې حساسه موده کې په ووهان کې پاتې یم، ځکه دلته زما چیني ټولګیوال، دوستان او ښوونکي هم شته دي. دلته ژوند منظم دی، خوراکونه کافي دي، د پوهنتون روغتون د ۲۴ ساعتونو لپاره خلاص دی او زما ښوونکي هره ورځ له ما څخه د حال او احوالو پوښتنه کوي. زه په دې فکر کې یم هغه افغانان چې له چین څخه لاړل، هسې نه دغه ناروغۍ هلته یوسي. زه وایم چې که زه اوس له چین څخه لاړ شم، نو زما دوستان او ښوونکي به خپه شي. زه په یو جنګي هیواد کې لوی شوی یم او له مرګ څخه وېره نه لرم، نو کله چې زما ملګري له ستونزو سره مخامخ وي، زه څنګه له دوی څخه جلا شم؟ زه باید په ووهان کې دوی وهڅوم او ډاډګېرنه ورکړم. زه باور لرم چې موږ به ژر له دغه ستونزمن حالت څخه را ووځو او بریا ته به ورسېږو.

د دې تر څنګ، څو ورځې مخکې درې افغان ملګرو جلال بازوان، خلیل احمد هجرت او محمد هارون صاپي چې په چین کې یې زده کړې کړې وې، له ډېرو ستونزو سره سره د ځینو ښارونو له ۵۰۰ دواخانو څخه شل زره ماسکونه اخیستي او د چین سفارت ته یې را لېږلي وو. دوی ویل چې که ملګري په ستونزه کې وي، نو موږ باید ورسره مرسته وکړو. له چیني دوستانو سره مرسته کول زموږ لپار د خوښې وړ کار دی.

یاد څلور محصلین عام افغانان دي، خو د دوی خبرې او کړنې له قوت ډکې دي. زموږ پخواني رییس ماو څه دونګ ویلي وو: افغانستان د اتلانو هېواد دی. دغه څلور محصلین په همدې ستر هیواد کې لوی شوي دي، دوی ته هم دغه ملي قوت له څو زرو کلونو راهیسې په میراث پاتې دی. زه افغانستان ته درې میاشتې مخکې راغلی یم او له دغه هیواد سره مې ژوره مینه پیدا شوې ده. زه باور لرم چې په چین کې ټولو افغان محصلینو دغه قوت احساس کړی دی، ځکه چې چین هم د اتلانو هیواد دی چې ۵ زره کلن تاریخ هم لري. زه ډېر خوشاله یم چې په دې ستونزمن وخت کې افغان محصلینو له کتابونو پرته واقعي پوهې هم تر لاسه کړې دي او خپل توریالیتوب او مسوولیت یې ښکاره کړی دی. د دوو سترو هیوادونو تر منځ ټینګ هوډ او دوستي مسوولیت د نوي نسل له خوا پر غاړه اخیستل شوی دی. زه ډېر خوشاله شوم چې له تاسو سره یم او تاسو هم خپل ملاتړ له چین څخه څرګند کړی دی.


له ژمي وروسته هرو مرو پسرلی راځي، نیالګي به هرو مرو په لویو ونو بدلېږي. چین په تیرو وختونو کې د افغانستان لپاره د روغتون، ښوونځي، اوبو لګولو پروژې، کورونو جوړولو او سړکونو په ګډون، یو لړ پروژې عملي کړې دي. د هغو ماشومانو لپاره چې د زړه سوري پر ناروغۍ اخته شوي، طبي عملیاتونه تر سره کړي او د ګډو ګټو پر بنسټ مې کرهیزه سوداګري کړې ده. اوس افغان محصلین او ملګري یې له موږ څخه ملاتړ کوي، څو موږ یوازې پاتې نه شو. د چین خلک په دې ښه پوهېږي او په زړه کې یې هم یادوي. زموږ تر منځ همکاري به نوره هم پراخه او ژوره شي. په عین حال کې تاسو ډاډه اوسئ، موږ افغان محصلین خپل بچیان ګڼو او په خپل غېږ کې به د دوی حمایت کوو، څو له تاسو سره یو ځای د دوی وده او پرمختګ ووینو چې د تاریخ پر لار له هیڅ باد یا باران څخه نه وېرېږي.

## دیپلوماتان: په لوړه کچه د انګلیسي ژبې ازموینه اخیستل د قانون خلاف هڅه ده، ګډون پکې نه کوو

د بهرنیو چارو وزارت یو شمېر ډیپلوماتان په دغه وزارت کې د اصلاحاتو په لړ کې په لوړه کچه د انګلیسي ژبې د ازموینې له اخیستو سره مخالف دي او دغه کار د قانون خلاف بولي.

دا په داسې حال کې ده چې شاوخوا دوې میاشتې وړاندې ولسمشر غني د بهرنیو چارو په وزارت، په ځانګړي ډول د استخدام په برخه کې د جدي اصلاحاتو غوښتنه وکړه او ویې ویل چې د بهرنیو چارو وزارت د ګومارنو په پروسه، تشکیلاتو او په کاري مقرراتو کې باید جدي اصلاحات رامنځته شي.

ولسمشر زیاته کړې وه چې د بهرنیو چارو په وزارت کې باید اصلاحات اقتصاد محوره واوسي، ډیپلوماتان او کارکوونکي یې باید د وړتیا او زده کړو پر بنسټ پر دندو وګومارل شي.



د همدې اصلاحاتو په لړ کې د بهرنیو چارو وزارت پخواني سرپرست ادریس زمان ویلي وو چې د تشکیلاتي تورم د له منځه وړلو په موخه په بهر او هېواد کې دننه د دغه وزارت ۱۷۸ کارکوونکي له دندو ګوښه کېږي.

خو وروسته ولسمشر غني د بهرنیو چارو په وزارت کې د اړینو اصلاحاتو د رامنځته کولو په موخه ادریس زمان له دندې ګوښه او پرځای یې هارون چخانسوري د سرپرست په توګه وټاکه.

پر یادې دندې د چخانسوري د ګومارلو په اعلامیه کې ارګ ویلي وو چې نوموړی به د خپلو نورو دندو ترڅنګ په دغه وزارت کې اړین اصلاحات هم رامنځته کوي.

د بهرنیو چارو وزارت ځینو سرچینو رسنیو ته ویلي چې چخانسوري د اصلاحاتو په لړ کې اعلان وکړ چې له ټولو ډیپلوماتونو څخه باید په لوړه کچه د انګلیسي ژبې ازموینه واخیستل شي. خو د نوموړي له دې پرېکړې سره د بهرنیو چارو وزارت ګڼ شمېر دیپلوماتان مخالف دي.

د بهرنیو چارو وزارت یوه ډیپلومات د نوم نه خپرولو په شرط پژواک ته ویلي چې د ولسمشر له حکم سره سم باید اصلاحات راشي، خو زیاتوي چې د اصلاحاتو په پروسه کې ستونزې دي.

هغه زیاته کړې: «اصلاحات د ادریس زمان په وخت کې پیل شول، هغه ویلي وو چې له هر دیپلومات څخه باید د انګلیسي ژبې APTIS آزموینه واخیستل شي چې اویا سلنه دیپلوماتانو دغه ازموینه ترسره کړه».

خو ده ویلي چې د چخانسوري په راتګ سره د انګلیسي ژبې دغه ازموینه له اپټېس څخه TOEFI او IELTS ته لوړه شوې ده.

د هغه د معلوماتو له مخې، ټافل او ایلېټس له ازموینې سره د دغه وزارت ٦۵۰ دیپلوماتانو تر اوسه مخالفت کړی دی او نه غواړي چې دغه ازموینه ورکړي.

# افغانستان د سولې او جګړې په وروستي پړاو کې؛ راتلونکې دوې اونۍ ولې مهمې دي؟

لیکنه: زمریالی اباسین

له څه د پاسه څلورو لسیزو وروسته، اوس افغانستان د شنې او سرې کرښې (سولې او جنګ) تر منځ پر پوله ولاړ دی او راتلونکې دوه اونۍ به یا شنې ساحې ته وځي او یا به د شدیدې جګړې نوی پړاو پیلېږي.

د اسیا په زړه کې پروت افغانستان، د سترو قدرتونو د سیالیو او نیابتونو پر ډګر بدل شوی هېواد، له اسکندر مقدوني رانیولې بیا د امریکا او د هغې د متحدینو (ناټو) تر پوځي یرغله، دا دوه زره کاله کېږي چې په پرله پسې ډول د بهرنیو هېوادونو لپاره د جګړو او مانورو پر ډګر بدل شوی. هر یو پخپل وار او ځینې یې څو څو واره په برم او غرور دې خاورې ته ننوتلي او د تیارې مړۍ فکر یې کړی، خو له انساني او مالي لحاظه له سختو ګوزارونو وروسته بېرته وتلو ته اړ شوي. یرغل کوونکو له وتلو وروسته یا زیان کړی یا یې بېرته ځانونه جوړ کړي او یا یې له لا ډېرې بربادۍ مخنیوی کړی، خو تر ټولو ډېر زیان یې چې لیدلی، هغه همدا جغرافیه او په دې جغرافیه کې مېشت انسانان وو او دي.

ډېری په دې نظر دي چې امریکا یو زبرځواک او پیاوړی هېواد دی او افغانستان ته راتګ یې ګویا د لا څو لسیزو لپاره دی او دلته به د لا ډېرو نورو کلونو لپاره پاتې کېږي. دا پر واقعیتونو ولاړ فکر نه دی او نه هم د اتلس کلنې جګړې د ژورې مطالعې او رسوا کېدونکو مسایلو تصویر له ځان سره لري. د دغې خبرې د اثبات لپاره لوستونکو ته بلنه ورکول کېږي چې د «Afghanistan Papers» هغه افشاګري یو ځل بیا په دقت ولولي چې په دې وروستیو کې د امریکایي رسنیو له لارې د واشنګټن د مخفي او کره اسنادو په وړاندې کولو سره خپرې شوې او د افغانستان له اتلس کلنې جګړې او په دې جګړه کې د امریکا له سیاسي او پوځي تېروتنو یې پرده پورته کړه.

واشنګټن پوسټ نشریې په دې هکله د کره اسنادو، د وخت د موظفو سیاسي او نظامي مسوولینو او نورو شاهدو په وړاندې کولو سره مطلب پر دې خلاصه کړی چې «هغه محرم دولتي اسناد چې واشنګټن پوسټ ته په لاس ورغلي، په تېرو اتلسو کلونو کې امریکایي چارواکو د افغانستان د جګړې په هکله درواغ ویلي. هغوی پوهېدل چې ټولې څرګندونې یې چې په دې اړه یې خپل ولس او نړۍ ته کړې، حقیقت نه لري او هغه د نه باور وړ اسناد یې هم پټ ساتلي وو چې روښانه کوي په افغانستان کې جګړه د ګټلو وړ نه ده.»

په ډېرو لیکنو او مرکو کې پخوانیو امریکایي چارواکو اعتراف کړی چې دوی په لومړیو کې (۲۰۰۱ - ۲۰۰۶ ز کال) فکر نه کاوه چې د افغانستان جګړه به دومره اوږدېږي. د دوی د ټولو خبرو لنډیز دا کېدلی شي چې اعتراف کوي افغانستان ورته د سرېښو پر ډنډ بدل شو او په اصطلاح، د ترهګرۍ ضد جګړه یې کله د ملت جوړونې، کله د ډیموکراسۍ د دودولو او کله په افغانستان کې د مرکزي حکومت جوړولو په نومونو په ډېرو ابهاماتو کې ډوبه شوه او د هرې ورځې په تېرېدو یې هم لګښتونه زیات شول او هم تلفات.

ټرمپ تر دوو کلونو جدي څېړنو او ارزونو وروسته، بالاخره د یو داسې شخص په توګه چې ټول ژوند یې د ګټې او زیان په جاج اخیستو تېر کړی، د افغانستان جګړه د هېنري کېسېنجر د همدې وصیت له مخې چې «د جګړې په ډګر کې د بریا نه تر لاسه کولو په صورت کې له مطلقې ناکامۍ د تېښتې یوازینۍ لار مذاکرات دي» له طالبانو سره د مذاکراتو ور پرانیست او دا دی اوس یې د خپل ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او ورسره مل امریکایي ټیم په مشرۍ له دغې ډلې سره توافق وروستی کړی، چې په راتلونکو څو ورځو کې یې د لاسلیک کولو تابیاوې نیول کېږي. د معلوماتو پر اساس، د دغې هوکړې په لاسلیک کېدو سره به په لومړي ګام کې تر ۵۰۰۰ امریکایي سرتېري له افغانستانه وځي او تر راتلونکو دوو کلونو به «په مشروط ډول» خپل پاتې نور شاوخوا ۸۶۰۰ سرتېري هم په خپلو چټکو الوتکو له دغې خونړۍ جغرافیې وباسي.

په همدې شاوخوا دوو اونیو کې به د «تاوتریخوالي کمولو اووه ورځنۍ هوکړه عملي کېږي او د وتونکو امریکایي سرتېرو په شمېر طالب زندانیان بیا د افغانستان او امریکا له زندانونو خوشې کېږي. دغه لړۍ به د وضعیت او په توافق لیک کې د راغلو مواردو په پام کې نیولو سره یو په بل پسې عملي کېږي او د طالب سرچینو په حواله، احتمالاً په دوو کلونو کې به بهرني ځواکونه په بشپړه توګه له افغانستانه وځي. د دوی د استخباراتي حضور مسئله پېچلې او خورا محتاطانه ده چې د یو سفارت په کچه به وي که تر دې پورته؟ دا به وخت روښانه کړي.

په همدې اونیو کې به که چېرې د اوو ورځو د جګړې توقف «Truce Agreement» په بریالیتوب سره عملي شي، د دواړو لورو (طالب- امریکا) تر منځ نهایي شوې هوکړه یا معامله لاسلیک کېږي. ورپسې به د بین الافغاني ناستو ځای او نېټه مشخصه کېږي او دغه بهیر به تر کابو یوې میاشتې په رسمي ډول پیلېږي او په دریو پړاونو (مفاهمه، مذاکره او مصالحې په بڼو) کې به تر یوې اوږدې مودې دوام پیدا کوي. ژر به د کابل بدل شوی دریځ روښانه او د سیاسیونو او حکومت ګډ پلاوی مشخص شي. د غني د ټیم لهجه به یو ډول او عمل به یې بل ډول وي (تند او شدید الفاظ او د پروسې له روحیې سره برابر عمل) چې پر دې مونیخ کې تازه توافق شوی دی. دا دوې اونۍ چې له پورته یادو شویو مواردو ځینې مهم به یې پکې عملي بڼه پیدا کوي، هغه مسیر ته لار پرانیزي چېرې چې د امریکایانو بار نور هم کمېږي او د افغان اړخونو او کړیو مسوولیتونه نور هم زیاتېږي. تر دې وروسته، د امریکا کار نظارت او په اسانچارۍ کې مستقیمه او غیر مستقیمه همکاري ده او لومړیتوب به یې دا وي چې دا چارې په ښه توګه مدیریت شي، ځکه هم د ټرمپ کمپاین ته مهمې دي او هم له دې سربداله جګړې د وتلو یا ناکامۍ د مثبت تصویر وړاندې کولو په پار.

په دوحه کې مو د اریانانیوز په استازیتوب د طالبانو د سیاسي دفتر له ویاند او نورو سرچینو، په اف او ان دي ریکورډ ډول په کراتو د ټاکنو په اړه پوښتنه کړې. ځواب یې خورا روښانه و: «د ټاکنو په نتیجه کې راغلی حکومت یاني د جګړې دوام.» خو دا کار به په اغلب ګومان ځکه ونه شي چې د تحلیلونو پر بنسټ، امریکا دا مسایل کنټرول کړې او په هېڅ صورت به د سولې کابو پنځلس میاشتنۍ له لوړو ژورو ډک بهیر ناکامېدو ته پرې نږدي. څوک شته چې په دې برخه کې د امریکا له نفوذه انکار وکړي؟

دویم اساسي پړاو له همدې دوو اونیو وروستي د دویم توافق (د افغانانو تر منځ جوړجاړي) لړۍ پیلول دي. په دې پړاونو کې تخریبوونکې کړۍ هم شته، امتیاز طلبې هم او یو کم شمېر ملي محوره اشخاص هم. خو پوښتنه دا ده چې تر کابو یو کال نانډریو وروسته به د نظام په استازیتوب ګډون کوونکې دغه بهیر څنګه پرمخ وړي او مدیریت کوي به یې؟ د خبرو ډول به پټ وي که سري او روښانه؟ او تر ټولو مهمه دا چې ورانکارې سیاسي کړۍ به څه اهداف تر لاسه کول غواړي؟

د هیلو او اندېښنو په دې حاکمه فضا کې، تر ټولو ښه کار به دا وي چې ځان غوښتنه، د واک تنده، سمت پالنه او خصومت یوې خوا ته کېښودل شي او د ولس او هېواد د ښېرازۍ او سوکالۍ لپاره نوی، رغوونکی او پیاوړی بنسټ کېښودل شي. اصلي سناریو به له همدې دوو اونیو وروسته پیلېږي. . .

# تر نانډریو او ځنډ وروسته؛

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون ولسمشر اشرف غني د ټاکنو ګټونکی اعلان کړ



له اوږده ځنډ او نانډریو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون اوسنی ولسمشر اشرف غني د ټاکنو ګټونکی اعلان کړ. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره ورځ په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې ولسمشر غني تر پنځوس سلنه ډېرې رایې ګټلې دي او د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د افغانستان ولسمشر دی. د هغه مخکښ سیال ډاکټر عبدالله عبدالله ۳۹ سلنه رایې وړې دي او دویم ځای یې خپل کړی دی.

د روان کال د تلې په شپږمه د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې. ټاکل شوې وه چې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې ډېرې ژر اعلان شي، خو دغه اعلان میاشتې میاشتې وځنډېد. د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري د لومړنیو پایلو تر اعلان وروسته، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کار پیل کړ او د دوی په کار کې هم پوره ځنډ و. نړیوالو بنسټونو او په هېواد کې د ننه سیاسي ګوندونو او ټاکنیزو ټیمونو د ټاکنیزو کمېسیونونو پر دغه ځنډ سختې نیوکې کولې. په پای کې د ټاکنو کمېسیون تېره ورځ بریالی شو چې وروستۍ پایلې اعلان کړي. د کمېسیون غړو پرون په یوه خبري غونډه کې وویل، چې محمد اشرف غني په ولسمشریزو ټاکنو کې ۵۰ اعشاریه ۶۴ سلنه رایې اخیستې او د ده مخکښ سیال عبدالله عبدالله بیا د ۳۹ اعشاریه ۵۲ سلنه رایو په ګټلو دویم ځای خپل کړی دی. د ټاکنو بل نوماند ګلبدین حکمتیار بیا ۳ اعشاریه ۸۵ سلنه رایې ګټلې او درېیم ځای لري.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې دوی خپلې چارې په پوره شفافیت سر ته رسولې دي او هغه تورونه یې رد کړي چې ګواکې دوی د یو ځانګړي ټیم په ګټه کار کړی دی. د کمېسیون رییسې حوا علم نورستانی په خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې دوی لایحو او قوانینو ته درناوی درلود او د قوانینو پر بنسټ یې خپلې چارې مخ ته وړې دي. نوموړې وویل: «موږ په پوره شفافیت د تعدیل شوي قانون پر بنسټ، له نوي ټکنالوژۍ په استفادې کار کړی دی او د افغانانو هرې رایې ته مو درناوی کړی دی.»

د کمېسیون له لوري د پایلو تر اعلان وروسته، ولسمشر غني په ارګ کې په یوه غونډه کې راڅرګند شو. هغه خپل ټیم ته د بریا مبارکي وویله او په خبره یې، د دوی بریا د افغانستان د خلکو بریا ده. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل چې ټاکنو کمېسیون له ستونزو سره سره خپلې چارې پر مخ یوړې او په سختو شرایطو کې افغانانو په ټاکنو کې برخه واخیسته.

ولسمشر غني وویل چې د ټاکنو بریا د افغانانو بریا ده، ځکه دوی په سختو شرایطو کې پر ولسواکۍ باور کړی دی او له جګړو ستړي شوي دي. ولسمشر همدا راز په دغه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې د افغانستان د پرمختګ لپاره به کار کوي او د یووالي ساتل یې ستره موخه ده. ده د سولې په اړه هم څرګندونې لرلې او زیاته یې کړه چې سوله یې لومړیتوب دی. ولسمشر غني وویل: «موږ له هر هغه چا سره د خبرو لار غوره کوو، چې ټوپک پر ځمکه ایږدي. موږ ته سوله لومړیتوب دی، سوله د هر افغان هیله ده او موږ د دې هیلې پوره کولو ته ژمن یو.»

نوموړي پر مخالفینو غږ وکړ چې د ټوپک پر ځای د خبرو لار غوره کړي، ځکه د جګړې او ټوپکو وخت تېر شوی دی. ده ټینګار وکړ چې د ټاکنو کمېسیون پرېکړو ته باید درناوی وشي او ټول دې ولسواکۍ ته درناوی وکړي.

بلخوا د هغه مخکښ سیال ډاکټر عبدالله عبدالله او ټاکنیز ټیم یې تر دې وړاندې ویلي وو، چې د ټاکنو پایلې ورته د منلو نه دي او د ټاکنو کمېسیون تقلبي رایې به د دوی له سخت غبرګون سره مخ شي. د عبدالله عبدالله ټاکنیزې ډلې له دې مخکې ویلي وو که کمېسیون له درغلیو ډکې پایلې اعلان کړي او د دوی غوښتنې په پام کې ونه نیسي، دوی به موازي حکومت اعلان کړي.

# د چین د بهرنیو چارو وزارت: متحده ایالتونو نړیوال انټرنېټي سیسټم له جدي ګواښ سره مخ کړی

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویلي، امریکا د نړۍ په تر ټولو ستر سایبري جاسوس بدل شوی او د نړۍ انټرنېټي سیسټم یې له ګواښ سره مخ کړی دی.

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګېنګ شوانګ خبریالانو ته ویلي، متحده ایالتونو په دې وروستیو کې په ټوله نړۍ کې ډېر انټرنېټي سیسټمونه هک کړي او په خبره یې، د امریکا دغه اقدامات به ناوړه پایلې ولري.

هغه زیاته کړې: «امریکا بیا بیا د نړۍ سایبري سیسټم له ګواښ سره مخ کړی، ښه ده چې د هکرانو امپراتور ورته ووایم، که د امریکا دغه ډول اقدامات نور هم دوام وکړي، د نړۍ لپاره به ناوړه پایلې ولري.»

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند زیاته کړې چې امریکا هره ورځ په منځنۍ توګه په ټوله نړۍ کې په ناقانونه توګه له پنځو میلیاردو زیاتو ټلیفوني اړیکو اطلاعات تر لاسه کوي.

د نوموړي په خبره، متحده ایالتونو پر دې سربېره، په دې وروستیو کې هر کال پر نږدې ۶۳۰۰ چینایي وېب سایټونو د بریدونو هڅه کړې چې ډېری یې له منځه تللي دي.

نوموړي دغه راز ویلي چې د سایبري بریدونو د مخنیوي په تړاو امریکا دوه ګونې لوبه کوي چې په خبره یې، دغه چلن به نړیوال سایبري امنیت له جدي ګواښ سره مخ کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې داسې راپورونه هم خپاره شول چې د امریکا استخباراتي شبکې یا سي ای اې د جرمني د مهمو اسنادو د هک هڅه کړې، چې د دواړو هېوادونو تر منځ یې نانډرۍ رامنځ ته کړې دي.


د یادونې ده چې تر دې وړاندې امریکا پر روسیې تور پورې کړی و چې د ۲۰۱۸ ز کال په ټاکنو کې یې د انټرنېټي بریدونو له لارې لاسوهنه کړې او د هغه مهال د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندې هېلري کلېنټن ډېر اکونټونه یې غلا کړي او د ولسمشر ټرمپ په ګټه یې کار کړی دی، خو روسیې بیا دغه ادعاوې رد کړې دي.

## د کتـاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### هغه پنځه عوامل چې زرین قانون تتوي




غرور د ټولو لویو تېروتنو مور ده.
جان روسکین

- غرور تر ورانی مخکې وي.
- غرور چې راشي، شرم خپله پسې راځي.
- غرور مخالفتونه زیاتوي.
- غرورو انسان ټیټوي.

د نولسمې پېړۍ لیکوال او نقاد جان روسکین وایي:((غرور د ټولو تېروتنو مور ده.)) دا غرور ولې دومره منفي دی؟ لیکوال او پروفیسور سي ایس لیویس د غرورو په اړه قوي نظر ورکړی دی. دی وایي چې غرور انسان نورو بدیو ته بیايي. دی وایي:((دا ډېر افراط ښکاري؟ که وي، نو فکر پرې وکړئ. ما مخکې یوه خبره وکړه، څوک چې خپله څومره غرور لري، دومره یې په نورو کې غرور بد راځي. اصلا که تاسو غواړئ پوه شئ چې څومره غرور لرئ، نو له ځانه دا پوښتنه وکړئ: څوک چې مې رټي یا مې خبرې ته پام نه کوي، څومره را باندې بد لګېږي؟ حقیقت دا دی چې د هر انسان غرور د یوه بل انسان له غرور سره په سیالۍ کې وي. دا ځکه زه چې زه غواړم په یوه مجلس کې دې زه لوی یاد شم؛ خو که بل څوک لوی یادېږي، نو دا ما ځوروي. نو اوس باید پر دې پوه شئ چې د غرور طبیعت همداسې د سیالۍ دی او نورې بدۍ بیا یوازې د تصادف له مخې د سیالۍ وي.

غرور په دې نه وي چې انسان یو شی لري، بلکې په دې وي چې تر بل ډېر څه ولري. موږ وایو خلک پر دې ویاړي چې ډېر شتمن دي، ډېر زړور دي، یا تر نورو ښایسته دي. که ټول خلک په یو ډول شتمن، زړور او ښایسته وي، نو غرور به هېڅ نه وي. همدا پرتله انسان ته غرور ورکوي: تر نورو د لوړېدو خوند. ١٦

که یو کس د بل کس ماتولو ته ځان تیار کړی وي، نو له هغه سره به څنګه داسې چلن وکړي چې له ځان سره یې غواړي؟ نه یې شي کولای. اصلا که ستاسو موخه دا وي چې تر نورو شمتن، هوښیار او ښایسته شئ، نو ستاسو تمرکز یوازې پر خپلو شخصي ګټو دی.

څو کاله مخکې د امریکا په کاروبار، قانون او طب کې اخلاقي زوال ته پام شو او د دې ټولو نسبت یې غرور ته وکړ. د مجلې یوه لیکوال ویلي چې د دې مسلکونو غړو یوازې د خپل نوم او حیثیت ساتلو لپاره دا اخلاقي شکایات پټ کړي دي.

پر غرور برلاسی اسانه دی. بنجامین فرانکلین ویلي:((په موږ کې د یوې طبیعي غریزې ځپل دومره سخت نه دي لکه د غرور. ویې وهه، زندۍ یې کړه، ویې ځپه؛ خو دا به بیا هم ژوندی وی. حتی که زه دا فکر ولرم چې پر غرور برلاسی کېدای شم، بیا به هم پر خپلې تواضع مغرور یم.)) هو! موږ باید پر غرور برلاسي شو. دا نه یوازې زموږ اخلاق خرابولای شي، بلکې زموږ په چارو کې مداخله هم کولای شي. پیګي نونن د نولسمې پېړۍ د یوه ډیپلومات له خولې وایي:((د ښتیني انسان تېرایستل به سخت وي؛ خو د هغو تېرایستل ډېر اسانه دي چې ځان زړور ګڼي.)) ١٨ غرور تاسو ړندوي، پر خپلو ستونزو او تېروتنو مو ړندوي، د نورو پر غوښتنو مو ړندوي او پر خپله لاره د اخلاقو پر محدودیتونو مو ړندوي.

**٥. لومړیتوبونه**

د جیم کولین په نوم یوه لیکوال پر دې څېړنه کړې چې شرکتونه ولې ډېر بریالي کېږي؟ بیا چې له ده د شرکتونو په بریا کې د اخلاقو ارزښت وپوښتل شو، نو ځواب یې ورکړ:((زموږ څېړنه په هر بریالي شرکت کې یو اساسي عنصر په ګوته کوي. ښه پکې هغه دي چې خپل اساسي ارزښتونه یې جوړ کړي وو او بیا یې د هغوی پر اساس ژوند کاوه)) ١٩
ډېر ارزښتمن شیان، تر لږو ارزښتمنو هغو مه ځاروئ .

**ګویته**

همدا خبره د افرادو په اړه هم سمه ده. که انسان پر دې پوه نه شي چې لومړیتوبونه یې څه دي، نو په ستونزو کې ګیرېدای شي، ځکه هغه د خپلو ضعیفو پرېکړو مسئول وي. الماني شاعر او لیکوال جوهن ولف ګینګ ګویته سپارښتنه کړې:((ډېر ارزښتمن شیان، تر لږو ارزښتمنو شیانو مه ځاروئ.)) زه اعتراف کوم چې یو وخت په دې برخه کې ډېر زیات کمزوری وم. ما چې لومړی ځل د کاهن په توګه دنده واخیسته، نو لومړیتوبونه مې رانه ګډوډ وو. بیا مې ډېر غوښتل چې د خلکو خوښ شم، په دې خاطر به ځینې وخت ضعیفې پرېکړې رانه کېدې. بیا چې د خلکو خوشالولو په یوه ستر مسئولیت کې پاتې راوستم، نو له یوه بحران سره مخ شوم چې له امله مې یې بېرته خپلو لومړیتوبونو ته رجوع وکړه. هغه وخت مې وویل چې خدای به زما په ژوند کې تر هر څه مخکې وي، بیا به مې کورنۍ وي او په درېیمه درجه کې به مې کار وي. دا په دې مانا نه ده چې ستونزه او مبارزه ختمه شوه. زه باید اوس هم هره ورځ د همدې لومړیتوبونو پر اساس خپلې پرېکړې مدیریت کړم. خپل ارزښتونه تعریفول یوه موضوع ده او بیا د همدې ارزښتونو پر اساس ژوند کول بله موضوع.

ستاسو لومړیتوبونه څه دي؟ له پنځوسو یا سلو کلو راهیسې اوس هم داسې څه کوئ چې وروسته به هم مهم وي؟ ستاسو کور؟ ستاسو موټر؟ ستاسو رخصتۍ؟ که ستاسو امتیازات؟ څه درته په ښتیا ارزښت لري؟ که تر اوسه مو خپل ارزښتونه نه وي تعریف کړي، نو زه درته وایم چې تعریف یې کړئ. بیا هڅه وکړئ چې عادي شیان درنه مهم نه شي او مهم شیان درنه عادي نه شي.

**دوام لري...**

# د بریالیو نجونو راز

◄ اکسوس کتابپلورنځی

ښځه نیمګړې نه ده، بلکې داسې بشپړ موجود دی چې د نسلونو پالنه، روزنه او بدلون په کې نغښتی دی.

نن سبا له هېښوونکې پېښې سره مخ یم، ګومان کوم د نړۍ ځینو ښځو په خپل ژوند او دنده کې د بریا او خوښۍ راز موندلی دی. له نېکه مرغه د دغو ښځو شمېر ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دی. داسې ښکاري لکه په دوی کې چې کوم پټ ځواک پروت وي. په اصل کې دوی یو جادویي راز موندلی دی. پوهېږۍ راز څه دی؟ دوی مثبت فکر کوي، د یو بل ملاتړ کوي او باور لري چې خپلو هیلو او غوښتنو ته رسېدلی شي. په همدې توګه تاسو هم کولی شئ.

له ښتیا به نه تېرېږو؛ دنده، مدیریت او د کاري ژوند سمون ستونزمن دي. ان ډېرې ښې او بریالۍ ښځې هم په لومړیو کې، په یوه دنده کې تر ګومارنې وروسته نه دي بریالۍ شوې، که څه هم بریا ته د رسېدلو هره لاره یې تجربه کړې، زیارونه یې ګاللي او سختۍ یې پر ځان منلې، خو هېڅ لازمه پایله یې نه ده تر لاسه کړې؛ مګر کله یې چې خپل لیدلوری او ذهنیت بدل کړی، هره ستونزه حل او د لارې خنډونه لرې شوي دي. تاسو به هغه وخت بریالۍ شی کله چې پر خپلو وړتیاوو باور ولرئ، منفي فکرونه مو له ذهنه پاک کړئ او ټولو هغو شیانو ته په لوړ غږ (نه!!) ووایئ چې موخو ته د رسېدو په لار کې درته خنډ جوړوي. ډاډه یم، که تاسو ځانونه د مثبتو، پیاوړو او هوډمنو ښځو په کتار کې و انګېرئ، نو بریا به مو په خپله ځان ته در بللې وي. کله چې ښځې په ریښتینولۍ سره د یو بل ملاتړ کوي، بېځایه خبرې شاته پرېږدي او د یو بل تر څنګ درېږي، نو یوه بېساري او ژوندۍ پدیده رامنځ ته کېږي.

که د ځان لوړ ښودلو او بې ځایه ستاینې تېرې شو، خپلې نیمګړتیاوې ومنو او د بشپړولو لپاره یې هڅې وکړو، بیا به مو هم یوه بله بېساري پدیده رامنځ ته کړې وي. په همدې توګه کله چې موږ د خپلو لاسته راوړنو او ماتو په اړه په ریښتینولۍ سره غږېږو، نو د پیاوړتیا پر لور یو ګام وړاندې اېږدو.

دا چې ځینې ښځې د ژوند په چارو کې ځانونه کمزورې ګڼي، لامل یې په ذهن کې د یوه منفي الګو ټاکل دي؛ دوی په ځان کې د پټ ځواک موندلو لپاره مینې، ملاتړ او لارښوونې ته اړتیا لري. د همدې لپاره هره ښځه باید د داسې نورو ښځو په لټه کې شي، چې خپلې هیلې یې ځارلې وي، پر خپلو متو یې ځانونو ته ښه ژوند جوړ کړی وي او په هماغو لوړو بوټانو یې د موخو پر لور کلک ګامونه اېښي وي.




له بده مرغه، دا کار دومره هم اسانه نه دی. دا چې ولې ښځې پر ځانغوښتنې او حسادت مشهورې دي، کوم راز نه دی، ما په خپله هم دا شان ډېرې ښځې لیدلې دي او که ښتیا راباندې وایئ، زه په خپله یو وخت له دې ډلې یوه وم. زه داسې نجلۍ وم چې ټوله ورځ به مې غیبت کاوه او غیبت به راپسې کېده. پوهېږئ؟ دواړه حالتونه ډېر دردوونکي دي. ولې باید ښځې تل د یو بل د حسادت، بېځایه سیالۍ او منفي لیدلوري قرباني شي؟ ولې موږ ښځې دا لیدلوری نه منو چې که د تخریب پر ځای د یو بل ملاتړ وکړو، ژوند به لا زړه راښکونکی شي؟ د دې پوښتنو پر ځواب زه هم نه پوهېږم، خو یو څه ښه راته مالوم دي، هغه دا چې د سکې پر بلې خوا ژوند ډېر ښکلی دی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لوی کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ١ | The Forty Rules of Love | Elif Shafak | ۲۲۰ؐ |
| ۲ | The Bastard Of Istanbul | Elif Shafak | ۲۵۰ؐ |
| ۳ | The Flea Palace | Elif Shafak | ۳۰۰ؐ |
| ٤ | The Architect's apprentice | Elif Shafak | ۲۷۰ؐ |
| ٥ | Black Milk on motherhood and Writing | Elif Shafak | ۱۷۰ؐ |
| ٦ | Sheltering Rain | Jojo Moyes | ۳۰۰ؐ |
| ۷ | The Last Letter From your Lover | Jojo Moyes | ۳۰۰ؐ |
| ۸ | The Ship of Brides | Jojo Moyes | ۲۳۰ؐ |
| ۹ | The Girl You Left | Jojo Moyes | ۳۰۰ؐ |
| ۱۰ | After You | Jojo Moyes | ۳۰۰ؐ |
| ۱۱ | One Plus One | Jojo Moyes | ۳۰۰ؐ |
| ۱۲ | Still Me | Jojo Moyes | ۲۷۰ؐ |
| ۱۳ | The Rules of Wealth | Richard Templar | ۱۷۰ؐ |
| ۱٤ | The Rules of Love | Richard Templar | ۱۷۰ؐ |
| ۱٥ | The Rules of Parenting | Richard Templar | ۱۷۰ؐ |
| ۱٦ | The Rules of Life | Richard Templar | ۱۷۰ؐ |
| ۱۷ | The Rules of People | Richard Templar | ۱۵۰ؐ |
| ۱۸ | The Power of your Subconscious Mind | Joseph Murphy | ۱۵۰ؐ |
| ۱۹ | Annihilation Southern Reach Trilogy | Jeff Vndermerr | ۱۵۰ؐ |
| ۲۰ | Tuesdays With Morrie | Mitch Albom | ۱۵۰ؐ |
| ۲۱ | How to stop time | Matt haig | ۱۷۰ؐ |
| ۲۲ | Start with Why | Simon Sinek | ۱۸۰ؐ |
| ۲۳ | the 1% Rule | Tommy Baker | ۲۰۰ؐ |
| ۲٤ | What I Wish I Knew When I Was 20 | Tina Seelig | ۱٦۰ؐ |
| ۲٥ | Act like a Succes think like a success | steve harvey | ۱۷۰ؐ |
| ۲٦ | ملي اتل شهید ارمان لوڼی | بارکوال میاخېل | ۱۳۰ؐ |
| ۲۷ | فلسفه | محمد نادر ایوبی | ۳٦۰ؐ |
| ۲۸ | اعتماد به نفس در سخنرانی | رسول خان امین | ۱۸۰ؐ |
| ۲۹ | د سوفي نړۍ | جوستېین ګارډر/شفیق امیرزی او وږمه وردګ | ۳۵۰ؐ |
| ۳۰ | د بریالیو نجونو راز | کارا الویل لیبا/وږمه وردګ | ۱۳۰ؐ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

همیانی

# مېرمنو! د دغو کارونو لپاره بښنه مه غواړئ

ژباړه: عطامحمد میاخېل

نن په دې خاورینه کرُه کې ډېرې ځواکمنې ښځې وینو، خو سره له دې بیا هم کوچنۍ ستونزې شته او دا هغه چلند دی، چې ډېرې مېرمنې یې د نورو پر وړاندې تر سره کوي.

که په رښتیا مو تېروتنه کړې وي، نو ښه ده چې بښنه وغواړئ، خو د ځینو عادتونو لپاره بښنه غوښتل، دلیل او منطق وړاندې کول، ناسم کار دی.

مېرمنې کله وخت په دې دلیل چې د ژوند ارزښتونه یې د شاوخوا خلکو د ارزښتونو په څېر نه دي، له ځینو کارونو څخه غاړه غړوي. په دې لیکنه کې پر هغو کارونو باندې رڼا اچوو چې د تر سره کولو له امله یې نباید مېرمنې بښنه وغواړي:

**۱ـ مور کېدل**

ډېری مېرمنې د مور کېدلو هیله لري، خو سم وخت یې څنګه تشخیص کړئ؟ مور کېدل کوم آسانه کار نه دی، خو له هغه ځایه چې تاسو یوازینی فرد یاست، چې باید خپل ماشوم دې نړۍ ته راوړئ او د عمر تر پایه پر هغه باندې پام وکړئ، یوازې او یوازې خپل نظر مو مهم دی او هېڅ بل فرد نه شي کولای چې ستاسو پر ځای تصمیم ونیسي. ښایي دوستان مو په پوهنتون کې د زده کړو په حال کې وي او تاسو اړه واوسئ، چې خپل ماشوم ستر کړئ، خو مهمه نه ده، که له دې کار څخه خوند اخلئ، نو تر سره یې کړئ.

یا برعکس، که خوښېږي مو چې د ډېر وخت لپاره ماشوم ونه لری یا ډېر سفرونه وکړئ، بیا هم ستاسو خپل نظر دی چې ارزښت لري، نو د مور کېدلو یا هم نه کېدلو لپاره له هیچا څخه بښنه مه غواړئ او نور هم پر دې باندې پوه کړئ، چې یوازې زه خپله یمه چې باید د خپل ژوند تر ټولو مهم تصمیم ونیسم.

**۲ـ خپل ځان ته لومړیتوب ورکول**

هرومرو به مو اورېدلي وي چې په الوتکه کې څه وایي؟ دا چې په بېړنیو حالاتو کې مخکې تر دې، چې له نورو سره مرسته وکړئ، لومړی خپل ماسک وتړئ او له خپلې روغتیا څخه ډاډ تر لاسه کړئ، وروسته د نورو مرستې ته ور ودانګئ، نو هغه څه چې باید په ژوند کې لومړیتوب ورکړئ، خپلې روغتیا ته پام کول دي. د خپل ځان لپاره وخت په پام کې ونیسئ. د بېلګې په توګه، که داسې احساس کوئ چې د نوکانو ښکلي کول مو وضعیت او حالت ښه کوي، نو دا کار تر سره کړئ او په اړه یې له هیچا څخه بښنه مه غواړئ. مهمه نه ده چې زړه مو څه غواړي، ستاسو اړتیاوې تر ټولو مهم څېزونه دي او د پوره کولو لپاره یې مه خجالت کېږئ.

**۳- (نه) ویل**

ټول باید نه ویل زده کړي، ښایي ساده او آسانه تر سترګو شي، خو په عمل کې له نورو سره مخالفت کول آسانه کار نه دی، تاسو باید د دې کار لپاره هڅه وکړئ، باید دا زده کړئ هغه څه چې ارزښت لري، تاسو خپله یاست، نو هغه څه چې نور یې ستاسو په اړه فکر کوي، حتی اړینه نه ده چې له نه ویلو څخه وروسته بښنه وغواړئ او د هغه تصمیم لپاره چې نیولی مو دی، توضیحات وړاندې کړئ. ښایي د نورو غوښتنه ستاسو له موخو سره توپیر ولري، ښایي د هغو لپاره کافي وخت ونه لرئ، په هر صورت، هغه څه ته نه ویل چې نه مو خوښېږي، خجالت کېږئ مه.

**۴- سینګار نه کول**

ډېری مېرمنې غوره ګڼي چې له سینګار پرته د نورو په منځ کې حاضرې شي، خو آیا سمه ده چې هغوی ته ووایو، مخ دې بې نوره دی، یا دا چې ولې په ځان باندې پام نه کوې؟ د سینګار نه کولو لپاره ډېر زیات دلیلونه شته، د بېلګې په توګه، د سینګار له توکو سره حساسیت او یا هم د پوستکي خرابېدل او یا حتی د وخت کمښت، نو هېڅ دلیل نشته چې هغوی ورتېځ، هرڅوک د خپل ژوند واک او اختیار لري او هر څنګه یې چې خوښه وي، په ټولنه کې حاضر شي، له دې امله که تاسو هم د هغو مېرمنو له ډلې څخه یاست چې طبیعي ښکلا غوره ګڼئ، نو سینګار مه کوئ او حتی د لامل په اړه یې هم له نورو سره خبرې مه کوئ.

**۵- سینګار کول**

اوس غوره ده چې د سکې بل مخ هم ووینو. که د هغو مېرمنو له ډلې څخه یاست، چې سینګار کول یې ډېر زیات خوښېږي، نو سینګار وکړئ. د ډېری مېرمنو په سینګار کولو سره پر ځان باندې باور زیاتېږي، نو هېڅ دلیل نشته، چې نور ستاسو په اړه څه فکر کوي. غوره ده، هر ډول یې چې خپله خوښېږي، سینګار وکړي، له دې امله د هغه کار په خاطر چې خپله مو خوښېږي، له نورو څخه بښنه مه غواړئ.

**٦- کار کول**

پخوانیو مېرمنو له واده کولو او اولاد پیدا کولو وروسته، له یوې څخه زیاته ټاکنه نه درلوده او هغه هم په کور کې کار کول، هغوی په کور کې پاتې کېدلې او خاوندان یې له کور څخه بهر پر کار باندې بوخت وو، خو نننۍ ښځې کولای شي په هر هغه مسلک باندې لاس پورې کړي، کوم یې چې خوښېږي. که چېرې تازه مو ماشوم پیدا شوی وي او په عین حال کې نه مو خوښېږي چې خپل د خوښې وړ کار خوشې کړئ، نو غوره ده چې خپل کار ته دوام ورکړئ یا برعکس که په خپل ځان کې د کار کولو توان نه وینئ، هېڅ دلیل نشته چې په هره ورځ کار کولو سره خپل ځان په زحمت کړئ. مهمه نه ده چې نور څه فکر کوي، هېڅکله د هغې ټاکنې لپاره له نورو څخه مه شرمېږئ، کومه چې په خپله مو خوښه ده.

**۷- هغه څه مو چې اغوستې**

د هر چا جامې د هغه د شخصیت ښکارندویي کوي، نو موږ نه شو کولای د نورو د جامو په اړه نظر ورکړو. ښایي یو کس چاغ وي او ونه شي کولای چې هر ډول جامې واغوندي یا دا چې خوښېږي یې چې سر تر پښو تورې جامې واغوندي، ښایي زړه یې وغواړي چې عجیبې جامې واغوندي، چې هېڅ یوه جامه یې له بلې سره تناسب ونه لري. په هر صورت، ټاکنه یې له خپل ځانه سره ده او د بل هېڅ فرد نظر ارزښت نه لري.

**۸- د واده جشن**

د واده جشن یو بل له هغو مواردو څخه دی چې په بشپړه توګه شخصي دی او په تاسو پورې تړاو لري. ښایي ستاسو خوښېږي چې د خپل واده جشن په یوه تالار کې او په ډېرې سادګۍ سره تر سره کړئ، یا هم په ډېر شان او شوکت سره یې د یوه ساحل تر څنګ تر سره کړئ، ښایي حتی غوره وګڼئ چې په پیسو یې په یوه سفر لاړې شئ، ستاسو نظر چې هرڅه وي باید نور هم ورته درنښت وکړي، ځکه دا ورځ ستاسو ورځ ده او باید هرڅه ستاسو په خوښه وي، نو د هغه څه په اړه چې د خپل ژوند په ستره ورځ کې مو تصمیم نیولی، له کورنۍ او مېلمنو څخه بښنه مه غواړئ.

**۹- د احساساتو څرګندول**

لکه څنګه چې ثابته شوې، ډېری مېرمنې له نارینه وو څخه احساساتي دي، کله وخت په ټلوېزیون کې د یوې تراژیدۍ او غمجنې صحنې په لیدو سره یې هم له سترګو څخه اوښکې راځي، حقیقت دا دی چې موږ انسانان یو، نه روبوټ، نو طبیعي ده چې د بېلابېلو موقعیتونو په اړه، بېلابېل احساسات څرګند کړو، نو که په ډېرې آسانۍ له سترګو څخه مو اوښکو د ګرېوان په لور لارې جوړې کړې، یا د ډېرې خوښۍ له کبله مو وغوښتل چې والوځئ او نور په غېږ کې ونیسئ، نو دا کار له کوم شرم پرته تر سره کړئ.

## اندرابي: د تاوتریخوالي کمښت به په راتلونکو څلورو ورځو کې پیل شي



د کورنیو چارو وزارت سرپرست مسعود اندرابي ویلي، د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې له مخې به په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کمښت پړاو په راتلونکو څلورو ورځو کې پیل شي.

نوموړي تېره ورځ په کابل کې له امنیتي چارواکو سره په یوه ګډه غونډه کې وویل، په دې ورځو کې به طالبان ځانمرګي او راکټي بریدونه نه کوي.

هغه زیاته کړې، افغان ځواکونه به د دې پړاو په اوږدو کې چمتو وي او که طالبان کوم برید وکړي، نو دوی به سملاسي ځواب ورکوي.

نوموړي دغه راز ویلي چې له افغانستانه د څو زرو بهرنیو ځواکونو وتل به پر امنیتي وضعیت هېڅ اغېز ونه کړي. اندرابي ویلي چې نړیوال ځواکونه به بیا هم د تېر په څېر د افغان ځواکونو ملاتړ او روزنې بهیر ته دوام ورکوي.

بل لور ته د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي، د طالبانو او امریکایانو تر منځ د خپلمنځي هوکړې له مخې د تاوتریخوالي کمښت باید په افغانستان کې دایمي اوربند ته لاره هواره کړي.

نوموړي په کابل کې په یوه خبري غونډه کې وویل، د تاوتریخوالي کمښت هم یو مثبت ګام دی، خو د افغان ولس غوښتنه دا ده چې په هېواد کې تلپاتې سوله راشي او جګړه دې په بشپړه توګه ختمه شي.

صدیقي ویلي، د افغان حکومت له بنده د طالب بندیانو د خوشي کېدو چاره به د قانون په رڼا کې پر مخ وړل کېږي.

نوموړي په کابل کې خبریالانو ته ویلي، نه غواړي د هغو ادعاوو په اړه څه ووایي چې ګواکې پنځه زره طالب بندیان به د سولې د هوکړې له مخې د افغان حکومت له بنده خوشي شي، خو زیاته کړه یې ده چې د بندیانو د خوشي کولو په برخه کې د افغانستان قوانین ښکاره دي او پلي کېږي به.

## لاریونوال: که حکومت د نفتو او ګازو د تصدۍ په اړه خپله پرېکړه وانه خلي، نورې دولتي ادارې به هم وتړو



د جوزجان ولایت د نفتو او ګازو د تصدۍ لسګونو کارکوونکو د خپل اعتراض په یوولسمه ورځ، د دغه ولایت په مرکز شبرغان ښار کې د ځینو دولتي ادارو دروازې تړلې دي.

د جوزجان د والي ویاند معروف آذر تېره ورځ امریکا غږ ته ویلي، د دغه ولایت د نفتو او ګازو د تصدۍ کارکوونکو د ۵۱۲ بستونو د تقنیضولو په غبرګون کې د شاوخوا لسو دولتي ادارو دروازې تړلې دي.

هغه زیاته کړې: «د هرې ورځې په تېرېدو سره د معترضینو شمېر زیاتېږي او خپل لاریون یې پراخ کړی دی. له پرون راهیسې د پوهنې، اطلاعاتو او فرهنګ، کرنې او د ښځو د چارو ریاستونه تړل شوي دي.»

معترضین ادعا کوي چې د نفتو او ګازو د تصدۍ شاوخوا ۵۱۲ بستونه د کار د قانون خلاف او دوی ته له خبر ورکولو پرته تنقیض شوي دي.

د دغې تصدۍ یوه کارکوونکي عبدالسلام له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې هر تنقیض شوی کارکوونکی د یوې کورنۍ د نفقې مسوولیت پر غاړه لري، چې دا کار د هغوی ژوند له ستونزې سره مخ کولی شي.

په ورته وخت کې د جوزجان د نفتو او ګازو د تصدۍ رییس دوست محمد رحیمي ویلي، چې دا تصمیم د حکومت له خوا نیول شوی دی او دوی هڅه کوي چې په دې اړه لاریونوالو ته قناعت ورکړي.

خو معترضینو خبرداری ورکړی، تر هغې چې د دوی غوښتنې ونه منل شي، اعتراضونو ته به دوام ورکړي او په راتلونکو ورځو کې به نورې دولتي ادارې هم وتړل شي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۳,۵۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۹مه |۵۱۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۲ | ۱٦ | ۹ | ۲۰ | ۱۷ |
| ۱- | ۱- | ۱ | ۱- | ۹ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۲ | لمر ختل ۰٦:۳٦ | ماسپښين ۱۲:۰۸ | مازيګر ۰۳:۱۵ | ماښام ۰۵:۳۹ | ماخوستن ۰۷:۰٤

## باشنده گان میدان وردک:
# اگر حملات هوایی متوقف نشود، به حکومت درد سر ایجاد خواهیم کرد



شماری از باشنده گان میدان وردک، حملات هوایی بالای افراد ملکی را تقبیح کرده و خواستار شناسایی و برخورد قانونی با عاملان آن شدند و هشدار دادند که اگر اینگونه حملات توقف نکند، به حکومت مرکزی مشکل ایجاد می کنند.

ده ها تن از باشنده گان میدان وردک، طی یک گردهمایی در کابل، کشتار افراد ملکی به خصوص محصلان را در این ولایت تقبیح کرده و خواستار توقف عملیات های هوایی و برخورد قانونی با عاملان حملات هوایی شدند.

سید رحیم ستار رئیس شورای قومی وردک که در این گردهمایی صحبت می کرد گفت که مردم بی گناه کشته می شوند و منازل شان حریق می شود؛ اما هیچکس به آن توجه نمی کند.

وی علاوه کرد که اخیراً در ولایت، سه فرد ملکی که همه محصل بودند، کشته شده و یک تن دیگر شان زخم برداشته است.

این در حالیست که به تاریخ ۱۸ دلو، در اثر بمباردمان طیاره های بی پیلوت در قریه حکیم خیل، منطقه تپه ولسوالی دایمیرداد ولایت میدان وردک، سه فرد ملکی که همه محصل بودند، کشته شدند و یک محصل دیگر زخمی گردید.

رئیس شورای قومی وردک، در ادامه گفت که در اوایل خارجی ها وعده سپردند که به منظور مبارزه با فساد، مواد مخدر، ناامنی و تامین صلح به افغانستان آمده اند؛ اما با تاسف که با گذشت هر روز ناامنی، فساد و کشتار و... افزایش پیدا کرده است.


## نړۍ



# د چين د بهرنيو چارو وزارت: متحده ايالتونو نړيوال انټرنېټي سيستم له جدي ګواښ سره مخ کړی

۳

## راپورونه: د پاکستان په کراچۍ ښار کې زهرجن ګاز ۲٦۴ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



د پاکستان د کراچۍ په سرحدي ښار کې پوليس چارواکو ويلي چې د زهرجن ګاز د خپرېدو له کبله ۱۴ کسان وژل شوي او لسګونه نور روغتونونو ته وړل شوي دي.

که څه هم پاکستاني چارواکو ويلي، چې د پېښې په اړه يې پلټنې پيل کړې، خو داسې ښکاري چې د ګازو کومه نلليکه سورۍ شوې او له کبله يې ياده مرګ ژوبله اوښتې ده.

په ورته وخت کې ډاکټرانو ويلي چې شاوخوا ۲۵۰ تنه بېلابېلو روغتونونو ته لېږدول شوي چې ډېرو يې ساه بندي لرله.

د راپورونو له مخې، دا پېښه د کراچۍ ښار د کيماري په سيمه کې شوې ده. د پاکستان د روغتيا وزارت وياند ظفر مهدي د فرانسې خبري اژانس ته ويلي چې په بېلابېلو روغتونونو کې لږ تر لږه ۱۴ تنه مړه شوي دي.

د کراچۍ په ښار کې د روغتونو د بېړنيو حالاتو د څانګې مشرې سمين جميل ويلي چې په روغتونونو کې ډېر بستر شوي ناروغان ساه بندي لري او سترګې يې سوځي چې په مشکل سره ليدل کولی شي.

که څه هم ځينې راپورونه وايي چې دا پېښه د ګازو د نلليکې د سورې کېدو له کبله پېښه شوې ده، خو پوليس چارواکو ويلي چې لا هم د دې پېښې اصلي علت نه دی په ډاګه شوی او په اړه يې پلټنې روانې دي.

## ملګري ملتونه: ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره په ادليب کې اوربند وکړي

ملګرو ملتونو د سوريې په ادليب کې پر روان وضعيت اندېښنه ښودلې او پر ښکېلو اړخونو يې غږ کړی چې ژر تر ژره دې په دې سيمه کې اوربند ته لار پرانيزي.

د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرې ميشل باچله ويلي، که په ادليب کې روان کړکېچ ته حل ونه موندل شي، بشري ناورين به رامنځ ته شي.


هغې دغه راز د سوريې په شمال کې د ملکيانو پر کمپونو او ملکي تاسيساتو بريدونه غندلي او ژر تر ژره يې د پوځي عملياتو د پای ته رسېدو غوښتنه کړې ده.

په ورته وخت کې د بشري حقونو سازمان يوه وياند رابرټ کولويل ويلي چې د سوريې رژيم د روسيې په هوايي ملاتړ په دې وروستيو کې ډېر ملکي اهداف په نښه کړي، چې پکې ښوونځي، روغتيايي مرکزونه او د کډوالو کمپونه هم شامل دي.

دغه راز د ترکيې حکومت هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره ادعا کړې چې په ادليب کې د سوريې او روسيې په ګډو عملياتو او بريدونو کې ډېرو ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، خو د روسيې د بهرنيو چارو وزارت بيا د ترکيې دغه ادعاوې رد کړې دي.

## ژونــــد


## د شامعې حس او د ښځو پر اړيکو يې اغېز!



څېړونکي وايي، د مېرمنو د شامعې (بوی) حس او د هغوی ټولنيزې اړيکې يو له بل سره اړيکه لري. دوی په يوه تازه څېړنه کې موندلې؛ هغه مېرمنې چې د بوی حس يې کمزوری دی او د عطرو او يا هم د ګلونو د ډولونو بوی سره نه شي بېلولی؛ په ټولنيز ژوند کې يې دوستان کم دي او له خپلو خپلوانو سره يې هم اړيکې سستې دي. دا څېړنه په امريکا کې د يو غير انتفاعي څېړنيز مرکز له لوري په ۳۰۰۵ او مېرمنو چې عمرونه يې له ۵۷ تر ۸۵ کلونو پورې وو، تر سره شوې ده. څېړونکو د مېرمنو د بوی حس ته نمرې ورکړې دي او د هغوی د ټولنيز ژوند په اړه يې هم مالومات راټول کړي دي. له دې وروسته دوی د ګډونوالو د بوی د حس نمرې د هغوی د ټولنيزې راشه درشه له نمرو سره پرتله کړې او دې پايلې ته رسيدلي، چې هغه ښځې چې د بوی کمزوری حس يې درلود، په ټولنيز ژوند کې يې هم دوستان کم وو او له خپلو خپلوانو سره يې هم راشه درشه په مياشتو او کلونو وه.

## څه ډول د خلکو زړه خپل کړو؟

مور ټول هڅه کوو چې د خلکو زړونه وګټو او د هغوی په زړه کې ځان ته ځای پيدا کړو. خو دا کار څنګه وکړو؟! ډېری خلک خپل ځان تر نورو هغو مهم او لوړ ښيي. دوی کله دا کار قصدي، خو ډېر کله په غير شعوري ډول کوي. دوی تل د خپل ځان په اړه غږېږي. دغه ډول خلک هېڅکله هم نه شي کولای د نورو زړه لاس ته راوړي. که دا عادت تاسې هم لری، نو په پرېښودلو کې يې ځنډ مه کوئ. هيڅوک هم نه غواړي چې له داسې يو انسان سره ملګرتيا وکړي چې هغه ته يوازې ځان مهم وي. په هر څه کې له نورو د مخکې کېدو هڅه مه کوئ. پرېږدئ چې ځينې شېبې ستاسې د دوستانو په ګټه وڅرخيږي او هغوی خوند ترې واخلي. خپل ملګري وهڅوئ. که ستاسې يو ملګری په ازموينه کې له ۱۰ څخه ٦ نمرې اخلي؛ مبارکي ورکړئ او ويې هڅوئ، زړه يې مه ماتوئ. هڅه وکړئ چې له ملګرو او خلکو سره رښتيني واوسئ. هر وخت صادقانه چلند وکړئ. په هره خبره کې دروغ جوړول، د خبرو بدلول او د هر شي په اړه شک کول، بد عادتونه دي.



عزيزي بانک
Azizi Bank
ماسټر ډېبټ کارټ
د عزيزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
• د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.
www.azizibank.af 1515

